ظُلم کا انجام (پشتو)

# د ظُلم انجام


شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنَّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

# د ظُلم انجام

دا رِساله "ظلم کا انجام" شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، اَبُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه په اردو ژبه کښې لیکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمې، زیاتې اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلسِ تراجِم ته د هغې خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| د ظُلم انجام | 1 | په خوشبو بوئي کولو کښ احتياط | 22 |
| د مرو تاج | 1 | ډِيوه ئې مړه کړه! | 23 |
| خوفناک ډاکو | 2 | باغ يا د جهنَّم کنده | 23 |
| ظالِم ته مُهلت ورکول شي | 3 | نيمه کهجُوره | 24 |
| په جَهَنَّم کښ پړمخ | 4 | د شاهي ځپيړې انجام | 25 |
| د اور بيړۍ | 5 | د فاروقِ اعظم سادګي | 25 |
| مُفلِس څوک؟ | 5 | د خرابي خاتِمې اسباب | 26 |
| اولړزيږۍ | 6 | ځان ته د چا "غُلام" وئيل څنګه دي؟ | 27 |
| نِيمه منړه | 8 | څنګه حال دې؟ | 28 |
| د خِلال وبال | 8 | مُنافِق به ګنړلې شم، د دې وضاحت | 29 |
| د غـنم دانه ماتولو اُخرَوي نقصان | 9 | د مظلوم اِمداد کول ضروري دي | 29 |
| 700 با جماعت [د جُمعې] مونځونه | 10 | د قبر نه شُعلې پورته کيدې | 30 |
| د قرض په ادا کولو کښ بې وجه ... | 11 | د مسلمان غـم | 30 |
| د غيرتمندئ تقاضه | 12 | د غَل غَـم | 31 |
| د نيکو په ذريعه مالدار | 13 | د غلا عذاب | 31 |
| الله و رسول ته ايذا [تکليف] ورکونکې | 14 | د ګناهونو د مريضانو د عِلاج کولو ... | 32 |
| زړه درزَوُنکې خارخت | 15 | د مختلِفو حُقُوقو زده کولو طريقه | 33 |
| جنّت کښ ګرزيدو والا | 16 | د ظالِم د مُختلِف اندازونو معلومات | 34 |
| د آقا ﷺ ډيره زياته عاجِزي | 16 | په چا پوری خندا کول ګناه ده | 35 |
| ما ستا غوږ تاؤ کړې وو | 17 | د ټوقـو کولو عذاب | 35 |
| د مسلمان تعريف | 17 | مُعافي اوغواړۍ | 36 |
| مسلمان ته بد بد کتل ، هغه يَرَوَل | 18 | ما مُعاف کړې ئې | 37 |
| مونږ د شريف سره شريف او ... | 18 | رقم به بيرته ورکول وي | 39 |
| څوک چه بد اوکړي په هغه هم ظلم ... | 20 | چه څوک ورته ياد نه وي په هغوئ ... | 40 |
| پرَدې قلم بيرته رسولو د پاره سفر | 21 | الله عَزَّوَجَلَّ به ئې صُلح اوکړي | 41 |
| بغير د اِجازته د چا چپل په ښپو کول ... | 21 | د خبرو اترو 12 مدني ګلونه | 43 |


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د ظُلم انجام [1]

شيطان که هرڅومره ناراستي درولي خو دا رِسا له پوره اولولئ اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يرې نه به اوژارئ.

## د مَرو تاج

”اَلقَولُ البَدِيع“کښې دي: حضرت سيِّدُنا شيخ احمد بن منصور رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه د وفات نه پس چا په خوب کښې په داسې حال کښې اوليدو چه هغه جنّتي حُلّه (لِباس) اغوستې د مرو تاج ئې په سر کړې د شِيراز د جامِع مسجد په محراب کښې ولاړ دې، خوب ليدونکي ترې تپوس اوکړو: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعنې اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ تاسو سره څه معامِله اوفرمائيله؟ وئيل ئې: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زه اوبخښلم، زما اِکرام ئې اوفرمائيلو او د مرو تاج ئې را په سر کړو او جنّت ته ئې داخِل کړم. تپوس ئې ترې اوکړو: په څه سبب؟ اوئې فرمائيل: اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما به په حُضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره دُرود و سلام لوَستلو هم دا عمل مې پکار راغلو.

(اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع ص 254)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] دا بيان امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د تبليغ قرآن وسنت عالمګير غير سياسی تحريک دعوت ا سلامی د درېٖ ورځو په بين الاقوامی سنّتو نه ډکې اجتماع کښې په (1429ھ، مطابِق 2008ء) په مدينةُ الاولياء ملتان کښې فرمائيلې وو. د ضروری ترميم سره دَ ليک په صورت کښې حاضِرِ خد مت دې. (مجلس مکتبة المَدينه)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

# خوفناک ډاکو

شيخ عَبدُالله شافِعِی رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيه په خپله سفرنامه کښې ليکي: يو ځل زه د بصرې د ښار نه يو کلي طرف ته روان ووم. د غرمې په وخت کښې يو دم يو خوفناک ډاکو په مونږ حمله اوکړه، زما ملګرې ئې شهيد کړو، زمونږ مال او سامان ئې زمونږ نه په زور واغستو، زما دواړه لاسونه ئې په رسئ اوتړل، زه ئې په زمکه واچولم او اوتښتيدو. ما په څه طريقه لاسونه خلاص کړل او روان شوم خو د پريشانئ په حالت کښې رانه لار خطا شوه، تر دې چه شپه راغله. يو طرف ته مې د اور رنړا اوليدله او د هغې په طرف ور روان شوم، لږ مخکښې چه لاړم نو يوه خيمه مې اوليده، د تندې د سختئ نه زما حالت خراب وو، لِهٰذا د خيمې په دروازه کښې اودريدم او آواز مې اوکړو. **اَلعَطَش اَلعَطَش!** يعني **اُف تنده! اُف تنده!** اِتِّفاقاً هغه خيمه د هغه **خوفناک ډاکو** وه! زما آواز ئې چه واوريدو نو د اوبو راوړو په ځائ تُوره په لاس باهر را اُووتو او دائې غوښته چه صرف په يو ګُزار کښې مې ځائ ته اورسوي، د هغه ښځه په مينځ کښې راغله خو هغه اونه منله او زه ئې په راښکلو لرې ځنګل ته بوتلم او زما په سينه کښيناستو زما په مرئ زما د حلالولو د پاره توره کيښودونکې وو چه ناڅاپه د وَنو د جاخو د مينځ نه يو زمرې په برمبيدو را اووَتو، زمرې ئې چه اوليدو نو ډاکو د يَرِې نه لرې اوغورزيدو، زمرې پرې ورغوټه شو او ټوټې ټوټې ئې کړو او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

بیرته په جاخو کښې غائِب شو. ما په دې غیبي مدد باندې د الله عَزَّوَجَلَّ شکر اداکړو.

سچ ہے کہ بُرے کام کا انجام بُرا ہے
رِښتیا ده چه د بد کار انجام بد وي.

# ظالِم ته مُهلَت ورکول شي

**خوږو خوږو اِسلامی ورونړو!** تاسو اولیده؟ د **ظُلم اَنجام** خومره خطرناک دې. حضرت سیِّدُنا شیخ محمد بن اسماعیل بُخاری رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **صحیح بُخاری** کښې نقل کوي: حضرت سیّدُنا ابوموسٰی اَشعَرِي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې، **سرکارِمدینه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بیشکه الله عَزَّوَجَلَّ ظالم ته مُهلَت ورکوي تر دې چه هغه کله په خپل ګرِفت کښې واخلي [یعني اونیسي] نو بیا ئې نه پریږدي. دائې چه اوفرمائیل نو سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دولسمې سیپارې د سُورَۂ هُود د آیت نمبر102 تلاوت اوفرمائیلو:

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَاۤ اَخَذَ الْقُرٰى وَ هِیَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ اَخْذَهٗۤ اَلِیْمٌ شَدِیْدٌ ﴿۱۰۲﴾

**مفهوم ترجمۀ کنزُالاِیمان:** او هم داسې نِیول دي ستا د رب (عَزَّوَجَلَّ) چه کله استوګنې [یعني آبادیانې] نیسی د هغوئ په ظلم باندې. بیشکه د هغه نِیول دردناک سخت دي.

(صَحِیحُ البُخارِی ج 3 ص247 حدیث 4686)

دهشت ګردو، لوټ مار کوونکو، قتل او بربادئ کوونکو ته د بیان کړې شوې حِکایت نه عِبرت حاصلول پکار دي، دوئې ته د خپل

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

انجام نه بې خبره کيدل نه دي پکار، ځکه چه کله په دُنيا کښې هم د قهر تندر پريوځی نو داسې ظالم خلق د سپي په مرګ مري او بيا په دوئي پسې څوک اوښکې تويوونکې هم نه وي او آه! د آخِرت سزا څوک برداشت کولې شي؟ يقيناً په خلقو باندې ظُلم کول ګُناه، د دُنيا او د آخِرت د بربادئ سبب او د جَهَنَّم د عذاب باعِث دې. په دې کښې د **الله** و **رسول** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني هم ده او د بندګانو حق تلفي هم ده. حضرت جُرجاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل کتاب **اَلتَّعْرِيْفَات** کښې د **ظُلم د معنې** په بيان کښې ليکی: کوم يو څيز د هغې د ځائ نه علاوه چرې بل ځائ ايښودل. (اَلتَّعْرِيفات لِلْجُرجانی ص102) په شريعت کښې د **ظُلم** نه مراد دا دې چه د چا حق وهل، څه شې بې ځائ خرچ کول، چا ته د قصور نه بغير سزا ورکول. (مراٰۃ ج6ص669) د کوم **خوفناک ډاکو** چه تاسو اوس ذِکر واوريدو، هغه به د لُوټ مار د پاره ناحق قتل هم کولو، هم په دې دُنيا کښې هغه **د ظُلم انجام** اوليدو. معلومه نه ده د هغه په قبر کښې به اوس [د هغه سره] څه کيږي! او د قيامت مُعامله خو لا اوس باقي ده. نن هم ډاکوان عُموماً د مال په لالچ کښې قتلونه هم کوي. ياد ساتئ! قتلِ ناحق انتهائي خطرناك جُرم دې.

## په جَهَنَّم کښې پرمخ

**حضرت** سيِّدُنا مُحَمَّد بِن عِيسٰی تِرمِذی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپله د حديثونو په مشهوره مجموعه **تِرمِذی** کښې د حضرت ابوسعيد خُدري او ابوهُريره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا نه نقل کوي: "که ټول آسمان او زمکې والا د يو مسلمان په خُون [يعنې قتل] کولو کښې شريک شي نو الله عَزَّوَجَلَّ به دا ټول پړمخ په جَهَنَّم کښې واچوي." (سُنَن الِتّرمِذی ج 3 ص100 حديث 1403)

## د اور بيړۍ

د **خلقو** مال ناحقه حِصاروونکو، ډاکې وهونکو، د رقم غوښتلو د پاره [خلقو ته] پرچۍ ليکلو والؤ ته ښه سوچ کول پکار دي چه نن هم کوم حرام مال په ډيره آسانۍ سره په مرۍ ښکته تيريږي، هغه هم چرې د قِيامت په ورځ په سخت مُصِيبَت کښې اخته نه کړي. **واورۍ! واورۍ!** حضرت سَيِّدُنا فقِيه ابواللَّيث سمرقندي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **قُرَّةُالْعُيُون** کښې نقل کوي: بيشکه په پلصِراط باندې **د اور بيړۍ** دي، چا چه د حرام يو دِرهَم هُم واغستو د هغه په ښپو کښې به **د اور بيړۍ** اچولې شي، چه د هغې په وجه به په پلصِراط باندې تيريدل ډير سخت شي، تر دې چه د هغه دِرهَم مالِک د ده د نيکو نه د هغې بدله وانخلي که د ده سره نيکۍ نه وي نو د هغه د ګُناهونو بار به هم اوچتوي او جَهَنَّم ته به غورزيږي.
(قُرّة العُيُون و معه الروض الفائِق ص392 کوئټه)

## مُفلِس څوک؟

**حضرت** سيِّدُنا مُسلِم بن حَجّاج قُشَيرى رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل مشهور **مجموعة احاديث صحيح مُسلِم** کښې نقل کوي: د **مديني تاجدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

اِستِفسار [يعني تپوس] اوفرمائيلو: آيا تاسو ته معلومه ده چه **مُفلِس څوک دې؟** صحابۀ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: **يارسولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په مونږه کښې چه د چا سره درهمونه او سامان نه وي هغه مُفلِس دې. اوئې فرمائيل: "زما په اُمّت کښې مُفلِس هغه دې چا چه د قِيامت په ورځ مونځ، روژې ، زکوٰة راوړل او داسې راغې چه ده ته ئې کنزل کړي وې، په هغه ئې تُهمت لګولې وو، د ده مال ئې خوړلې وو، د هغه وينه ئې توئ کړي وه، هغه ئې وهلې وو، نو د هغه د نيکو نه څه دې مظلوم ته ورکړې شي او څه هغه مظلوم ته، بيا که د ده په ذِمّه چه کوم حَقونه وي د هغې د اداکولو نه مخکښې د ده نيکئ ختمې شي نو د هغه مظلومانو خطاګانې [به] راواغستې شي په دې ظالِم [به] ور واچولې شي بيا [به] دې اور ته اوغورزولې شي." (صحيح مُسلِم ص1394 حديث 2581)

## اولړزيږئ

اے مونځ ګزارو! اے روژه دارو! اے حاجيانو! اے پوره زکوٰة ادا کوونکو! اے په خير ښيګړو کښې حصّه اغِستونکو! اے نيک صورته ښکاريدونکي مالدارو! اويَريږئ! اولړزيږئ! په حقيقت کښې مُفلِس [يعني کنګال] هغه دې څوک چه به د مونځ، روژې، حج، زکوٰة و صدقات، سخاوتونو، د خير ښيګړو په کارونو او د غټو غټو نيکو کولو باوجود د قيامت په ورځ بالکل خالي پاتې شي! چا ته ئې چه کله کنزلې کړي وي، کله ئې د شريعت د اِجازت نه بغير رټلې وي، بې عِزّته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

کړې ئې وي، وهلې ټکولې ئې وي، عارِیَتاً [یعنې د چا نه عارضي طور د روزمره د اِستعمال څه] څیزونه ئې راوړي وي او قصداً ئې بیرته نه ورکوي، [د چا] قرض ئې نیولې وي، [د چا] زړه ئې ازارولې وي او خفه کړې ئې وي هغوئي به د ده ټولې نیکئ یوسی او د نیکو ختمیدو په صورت کښې به د هغوئي د ګُناهونو بار اوچتوي او دوزخ ته به سپارلې شي.

په **صحیح مسلم شریف** کښې دي، د الله عَزَّوَجَلَّ د محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرت نِشان دې: "تاسو به حقونه، حق والؤ ته حواله کړې تر دې چه د بې ښکرو [چیلئ] به د ښکرو والا بیزې [چیلئ] نه بدله اغستې شي." (صحیح مُسلِم ص 1394 حدیث 2582)

مطلب دا دې چه که تاسو په دُنیا کښې د خلقو حقونه ادا نه کړل نو لامحاله (یعنې په هر صورت کښې به ئې) د قیامت په ورځ ادا کوئ، دلته په دُنیا کښې په مال باندې او په آخِرت کښې په اعمالو باندې، لِهٰذا خیر هم په دې کښې دې چه په دې دُنیا کښې ئې ادا کړئ ګنې پښیمانه به ئې. **مِرآة شَرَحِ مشکٰوة** کښې دي: "څناور اګرچه د شرعی احکامو مُکلَّف نه دي خو حُقوقُ العِباد به څناور هم ادا کوي." (مِراٰة ج 6 ص674)

د **الله** عَزَّوَجَلَّ خوف [یَره] لرونکي حضرات د حقُوقُ العِباد په ظاهره معمولي ښکاریدو والا مُعامَلاتو کښې هم داسې احتیاط کوي چه بنده ورته حیران پاتې شي. چنا نچه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

## نِیمه منړه

**حضرت** سیِّدُنا اِبراهِیم بن ادهم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په یو باغ کښې دننه په نهر کښې **منړه** اولیده، راپورته ئې کړه او اوئې خوړله. چه اوئې خوړله نو پریشانه شو چه دا ما څه اوکړل! ما د دې د مالک د اِجازت نه بغیر ولې اوخوړه! چنانچه په تلاش کولو کولو باغ ته اورسیدو، د باغ مالکه یوه زنانه وه، د هغې نه هغوئې رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ معذِرت اوغوښتو، هغې عرض اوکړو چه: دا باغ زما او د بادشاه شریک دې، ما خپل حق معاف کړو خو د باد شاه د حق د معاف کولو اختیار نه لرم. بادشاه په بلخ کښې وو لِهٰذا حضرت سیِّدُنا اِبراهِیم بن ادهم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د **نِیمې منړې** د معافۍ اغستو د پاره د بلخ سفر اِختیار کړو او هله په قلاره کښیناستو چه معافي ئې ترې واغسته. (رحلة ابن بطوطة ج 1 ص34)

## د خِلال وبال

**خوږو خوږو اِسلامی ورونړو!** په دې حِکایت کښې بې تپوسه د خلقو څیزونه خوړلو والؤ، د سبزیانو او د میوو د ریړو نه په غلا څه نه څه خپلې ټوکرئ ته اچوونکو د پاره عِبرت او عِبرت دې. په ظاهره معمولي ښکاریدونکې شې هم که چا بې اِجازته استعمال کړو او د قیامت په ورځ اونیوې شو نو څه به کیږي؟ چنانچه حضرت علّامه عبدُالوَهَّاب شَعرانِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په **تَنْبِیهُ الْمُغْتَرِّیْن** کښې نقل کوي: **مشهورتابِعی** بزرګ حضرت سیِّدُنا وهب بن مُنَبِّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: یو اسرائیلی کس د تیرو

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

شوو تېولو ګناهونو نه توبه اوكړه، د اويا كالو پورې ئې مسلسل داسې عِـبادت كولو چه د ورځې به ئې روژه نيوله او د شپې به ئې عبادت كولو، نه به ئې څه ښه خوراک كولو نه به ئې د څه سوري لاندې آرام كولو. د هغه د وفات نه پس هغه چا په خوب كښې اوليدو او تپوس ئې ترې اوكړو: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ستاسو سره څه معامَله اوفرمائيله؟ جواب ئې وركړو: **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما حساب واغستو، بيا ئې زما ټول ګناهونه اوبخښل خو يو **ډكې** [چخچې] چه په هغې باندې ما د هغه د مالِک د اِجازت نه بغير په **غاښونو كښې خِلال** كړې وو (او دا معامِله د حُقوقُ العِباد وه او د هغې د مالک نه) بخښنه غوښتل پاتې شوې وو د هغې په وجه زه تر اوسه پورې د جَنَّت د داخليدو نه منع كړې شوې يم. (تنبيهُ المُغتَرِّين ص 51)

## د غنم دانه ماتولو اُخرَوي نقصان

**خوږو خوږو اِسلامى ورونړو!** لږ غور خو اوكړئ يو ډكې جنّت ته د داخِليدو نه مانِع (يعني د منع كيدو سبب) جوړشو! او نن صبا د معمولې ډكې خِلال لا څه ته وائي، ځينې خلق د نورو لكونه بلكه كروړونه روپۍ اوخوري اوڅه پرواه ئې هم نه وي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ هِدايت وركړي.اٰمين. يو بل **عِـبرتناک حِكايت** اوګورئ چه په هغې كښې صرف د يو دانه غنم بې اِجازته خوړلو نه، صرف د ماتولو د اُخرَوي نقصان ذكر دې. چنانچه منقول دي چه يو كس د وفات كيدو نه وروستو چا په خوب كښې اوليدو او تپوس ئې ترې اوكړو: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ستاسو سره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

څه معامله اوفرمائيله؟ وئيل ئې: **الله** عَزَّوَجَلَّ زه اوبخښلم، خو حساب کتاب اوشو تر دې چه د هغه ورځ په باره کښې هم زما نه پوښتنه اوشوه په کومه ورځ چه زه روژه ووم او د خپل يو دوست په دُکان کښې ناست ووم چه کله د اِفطار [يعني د روژه ماتی] وخت شو نو ما د غنمو د بورئ نه د غنم يوه دانه راواغسته او هغه مې ما ته کړه چه په خُله کوله مې نو ما ته احساس اوشو چه دا دانه زما خپله نه ده، د کوم ځائ نه مې چه راغستې وه فوراً مې بيرته هم هغه ځائ ته واچوله. ما سره د هغې هم حساب اوشو تر دې چه د هغه پردئ **غنم د دانې د ماتولو د نقصان په قدر زما نه نيکئ واغستې شوې.** (مرقاةُ المَفَاتِيح ج 8 ص 811، تحت الحديث5083)

## 700 د جَمعې سره کړي مونځونه

**خوږو خوږ و اسلامی ورونړو!** تاسو اوليده د پردي غنم يوه دانه هم بې اجازته ماتول د قيامت د نقصان سبب جوړيدې شي. نن صبا صرف د غنم د دانې ماتول يا خوړل څه خبره ده. نن صبا خو بغير د دعوت نه د بل کره روټئ هم اوخورى! حالانکه بغير د بلَنې نه د چا په دعوت کښې شامليدل شرعاً منع دي. د **ابوداؤد شريف** په حديثِ پاک کښې دا هم دي: "څوک چه د بَلَنې نه بغيرلاړو هغه د غَل په شان ننوتو او ډاکه ئې او وهله او او وتو." (سُنَن ابي داؤد ج 3ص379 حديث3741) د دې نه علاوه نن صبا د قرض په نوم د خلقو زرګاؤ بلکه لکونه روپئ خوړلې کيږي. اوس خو به دا هر څه آسان معلوميږي خو د قيامت په ورځ به ډير ګران

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

پریوځی. اے د خلقو قرضونه نیوونکو! غوږ کیږدئ او په غور سره واورئ! زما آقا **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ نقل کوي: "څوک چه په دُنیا کښ د چا تقریباً درې پیسې دَین [یعني قرض] اوخوري د قیامت په ورځ به د هغې په بدله کښ **ووه سوه د جَمعې سره کړې مونځونه** ورکوي." (فَتاوٰی رَضَوِیّه ج 25 ص 69) آو بالکل! څوک چه د چا قرضه اونیسي هغه ظالم دې او په سخت نقصان او خُسران کښ دې. حضرت سَیِّدُنا سُلیمان طَبَراني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خپله **مجموعۂِ** احادیث **طَبَراني** کښ نقل کوي: **سرکارِمدینه** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي، چه د هغې مفهوم دې: "د ظالِم نیکئ به مظلوم ته او د مظلوم ګناهونه به ظالم ته ورکولې شي." (اَلْمُعجَمُ الکَبِیر ج 4 ص148 حدیث3969)

## د قرض په ادا کولو کښ بې وجه تاخِیرکول ګناه ده

د **قرض** خبره روانه ده نو دا هم واورئ چه **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سیِّدُنا امام **محمّد غزالی** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په **کیمیائے سعادت** کښ نقل کوي: "کوم کس چه قرض اَخلی او دا نِیَّت کوي چه زه به ئې په ښه طریقه ادا کړم نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د حفاظت د پاره یو څو فریښتې مقرّر فرمائي او هغه [فریښتې] دُعا کوي چه د ده قرض ادا شي." (انظر: اتحاف السّادة للزّبيدي ج 6 ص409) او که قرضدار قرض ادا کولې شي نو که د قرض خواه د رضا نه بغیر د یو ساعت تاخیر هم کوي نو ګنهګار به وي او ظالِم به ګڼړلې شي (لکه په هر حال کښ به د هغه د ګناه میټر روان وي) او په هر حالت کښ به په هغه باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ لعنت وریږي. دا ګناه خو داسې ګناه ده چه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

د خوب په حالت کښې به هم پکښې هغه ګرفتار وي. که د خپل سامان په خرڅولو قرض ادا کولې شي نو دا به هم کوي، که داسې اونه کړي نو ګنهګار دې. که د قرض په بدله کښې داسې شې ورکړي چه هغه د قرض خواه خوښ نه وي نو بيا به هم ورکونکې ګنهګار وي او چه تر څو پورې هغه راضي نه کړي د دې جُرم نه به خلاصې نه مومي ځکه چه د ده دا فعل [يعني دا کار] د کبيره ګناهونو نه دې خو خلق دا معمولي ګنړي.“ (کيميائے سعادت ج1 ص336)

## د غيرتمندئ تقاضه

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** چه کله خپل مطلب وي نو ځيني خلق خوشامندې او د دروغو وعدې کوي او قرضه حاصله کړي خو افسوس افسوس! د اغستو نه پس بيا د ادا کولو نوم نه اخلي. د **غيرتمندئ تقاضه** خو داده چه د چا نه ئې قرض اخستې دې زر تر زره د هغه مُحسِن [احسان کوونکي] کور ته ورشي او د شکريه ادا کولو سره د هغه قرضه ادا کړي، خو نن صبا حالت دادې چه که څوک قرض ادا کوي هم نو قرضخواه لره په ښه په تکليفونو ورکولو د هغه غريب رقم په ټُکړو ټُکړو يعني لږ لږ ورکوي. ياد ساتئ! بې وجه قرضخواه په تکليف کښې اچول هم ظُلم دې. عام طور د کاروباري خلقو دا عادت وي چه [د ميعاد پوره کيدو باوجود قرضخواه ته وائي] مانړام به ئې درکړم، صبا راشه وغيره حالانکه رقم په ګَلّه [دراز] کښې موجود وي او بِلا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ گناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

اِجازتِ شرعي هغه په چکرو لګولو مجبورَوي، دا سوچ نه کوي چه مونږه خومره غټه ګناه په سر اَخلو! که مابنام قرض ورکول دي نو اوس سحر په ورکولو کښې څه باک دې!

## د نيکو په ذريعه مالدار

**خوږو خوږ واسلامی ورونړو!** د بندګانو حق تلفی [يعني حق وهل] د آخِرت د پاره د ډير زيات نقصان خبره ده، حضرت سيّدُنا احمد بن حَرب عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّب فرمائي: ډير خلق به د نيکو د ډير زيات دولت سره د دنيا نه مالدار رُخصت شي خو د بندګانو د حق تلفو په وجه به ترې د قِيامت په ورځ خپلې ټولې نيکئ لاړې شي او دغسې به غريب او ناداره شي.
(تنبيهُ المُغتَرِّين ص53)

حضرت سَيِّدُنا شيخ ابوطالِب محمّد بن علی مکّی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **قُوتُ القُلُوب** کښې فرمائي:"اکثر به (خپل نه بلکه) د نورو خلقو ګناهونه دوزخ ته د داخليدو سبب جوړشي کوم به چه (د حقوقُ العِباد ضائِع کيدو په سبب) په اِنسان باندې واچولې شي. او بې شميره خلق به (د خپلو نيکو په سبب نه بلکه) د نورو خلقو د نيکو حاصلولو په سبَب جنّت ته داخِل شي." (قُوتُ القُلُوب ج2 ص292) ښکاره خبره ده چه د نورو نيکئ حاصلوونکي به هم هغه وي د کومو خلقو چه په دُنيا کښې زړونه ازارولې شوي وي او حقونه ئې وهلې شوي وي. دغسې به د قِيامت په ورځ مظلومان او غم زپلي خلق په فائِده کښې وي.

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

## الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم ته تکلیف ورکونکې

د **حُقُوقُ العِباد** مُعامِله ډېره نازکه ده خو آه! نن صبا د بې باکۍ دور دې، عوام خو څه خواص نومیدونکي هم عُموماً د دې د طرف نه غافله اوسي. د غُصّې مرض عام دې د دې په وجه اکثر خواص هم د خلقو زړه ازارولو کښې پریوځی او د دې طرف ته د هغوئ بالکل تَوَجُّه نه وي چه د مسلمان بلاوجهٔ شرعي زړه ازارول ګناه و حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې، زما آقا **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په فَتاوٰی رَضَوِیَّه شریف جلد24 صفحه 342 کښې د **طَبَراني شریف** په حواله سره نقل کوي: د سلطانِ دوجهان صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دې:

''مَنْ اٰذٰی مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِیْ وَمَنْ اٰذَانِیْ فَقَدْ اٰذَی اللهَ **(یعني)** چا چه (بِلا وجهِ شرعي) کوم مسلمان ته تکلیف ورکړو هغه ماته تکلیف راکړو او چا چه ماته تکلیف راکړو هغه الله عَزَّوَجَلَّ ته تکلیف ورکړو.''

(اَلمُعجَمُ الاَوسط ج 2 ص387 حدیث3607)

**الله** و **رَسُول** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د تکلیف ورکوونکو په باره کښې الله عَزَّوَجَلَّ په سیپاره 22 سُورَةُالْاَحْزاب آیت 57 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّلَهُمْ عَذَابًا مُّهِیْنًا

**مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان:** بیشکه څوک چه تکلیف ورکوي الله (عَزَّوَجَلَّ) او د هغه رسول ته،په هغوئ د الله (عَزَّوَجَلَّ) لعنت دې په دُنیا او آخِرت کښې او الله (عَزَّوَجَلَّ) د هغوئ د پاره د ذِلّت عذاب تیار کړې دې.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

# زړه درزَوُنکې خارخت

**خوېندو او ګرانو اسلامي ورونړو!** كه تاسو كله د كوم مسلمان بلاوجهِ شَرعي زړه ازارولې وي نو كه ستاسو د هغه سره هرڅومره قريبي تعلُّق وي، [كه تاسو د هغه] مشر وروړ ئې، پلار ئې، خاوند ئې، سخر ئې يا كه د څومره غټې مرتبې مالِك ئې، يا تاسو صدر ئې يا وزير ئې، استاذ ئې يا پير ئې، مؤَذِّن ئې يا اِمام و خطيب ئې كه هر څه ئې، شرميږئ مه، توبه هم اوكړئ او د هغه بنده نه معافي اوغواړئ او هغه راضي هم كړئ ګني د جَهَنَّم سخت يَرَوونكې عذاب به برداشت نه كړې شئ. واورئ! واورئ! حضرت سيِّدُنا **يزيد بن شَجَره** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: "څنګه چه د سمندر غاړې وي هم دغسې د جَهَنَّم هم غاړې وي چه په هغې كښې د بُختي اوښانو په شان ماران او د قچرو په شان لړمانان اوسيږي، اَهلِ جَهَنَّم به چه كله په عذاب كښې د كمئ د پاره فرياد كوي نو حكم به اوشي چه د غاړو نه باهر اوځئ هغوئ به چه څنګه اووځي نو هغه ماران به هغوئ د شونډو او مخونو نه اونيسي او د هغوئ نه به خرمني هم اوباسي هغوئ به د هغه ځائ نه د بچ كيدو د پاره اُور طرف ته اوتښتي بيا به په هغوئ باندې خارخت مسلّط كړې شي هغوئ به ځان دومره ډير اوګَرَوي چه د هغوئ غوښې او پوستكي به ټول لرې شي او صرف هډوكي به پاتې شي، آواز به كيږي اے فلانكيه! آيا تا ته تكليف كيږي؟ هغه به وائي: آو. نو اوبه وئيلې شي دا د هغه تكليف بدله ده كوم چه به تا مومنانو ته وركولو." (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج 4 ص 280 حديث 5649)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

# جنّت کښې ګرزيدو والا

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** مسلمان ته تکليف ورکول د مسلمان کار نه دې بلکه د ده کار خو دا دې چه د مسلمان نه تکليف ورکوونکې ځيزونه لرې کړي. سيّدُنا اِمام مُسلِم بن حَجّاج قُشَيرِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په **صحيح مُسلم** کښې نقل کوي: د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: ”ما يو کس په جنّت کښې په ګرځيدو اوليدو چرته چه غوارې ځي، ځکه چه هغه په دې دُنيا کښې يوه داسې وَنه د لار نه کټ کړې وه کومې به چه خلقو ته تکليف ورکولو.“ (صحيح مُسلِم ص1410 حديث2617)

# د آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم ډيره زياته عاجِزي

زمونږ ګران او خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه د خپلې اُسوَۀ حَسَنه [يعنې د ښکلو اخلاقو] په ذريعه مونږ غلامانو ته د حُقُوقُ العِباد د خيال ساتلو په کوم ښکلې انداز کښې تعليم راکړې دې د هغې يوه ژړوونکې نظاره اوګورئ. چنانچه زمونږ د ځان نه هم ګران آقا مکّي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وفاتِ ظاهري په وخت کښې په اجتِماعِ عام کښې اعلان اوفرمائيلو: زما په ذِمّه که د چا قرض وي، ما که د چا ځان مال او عِزّت ته نقصان رسولې وي نو زما ځان او مال او عزّت حاضر دې. ”په دې دُنيا کښې دِ رانه بدله واخلي.“ په تاسو کښې هيڅ څوک هم دا يره مه لرئ چه که چا زما نه بدله واغسته نو زه به ګني خفه شم، دا زما شان نه دې. زما دا خبره ډيره خوښه ده چه که د چا حق زما په ذِمّه وي چه هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

ئې زما نه واخلي يا ما مُعاف کړي. بيا ئې اوفرمائيل: اے خلقو! چه په کوم کس د چا حق وي نو هغه ته پکار دي چه هغه ادا کړي او دا خيال نه کوي چه رُسوائي به مې اوشي ځکه چه د دُنيا رُسوائي د آخِرت د رُسوائې نه ډيره آسانه ده. (تاريخِ دِمشق لِابنِ عساكِر ج 48 ص323 مُلَخّصًا)

## ما ستا غوږ تاؤ کړې وو

**حضرت سيِّدُنا عُثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل يو غلام ته اوفرمائيل: **ما يو ځل ستا غوږ تاؤ کړې وو**، ته زما نه د هغې بدله واخله.

(الرّياض النضره فِي مناقِب العَشره. جزء 3 ص45)

## د مسلمان تعريف

د **الله** عَزَّوَجَلَّ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ هِدايت نِشان دې: (کامِل) **مسلمان** هغه دې د چا د ژبې او لاس نه چه **مسلمان** ته تکليف اونه رسی او (کامِل) مُهاجِر هغه دې کوم چه هغه څيز پريږدي د کوم نه چه **الله** تعالٰی منع فرمائيلي دي. (صحيحُ البُخاری ج1 ص15 حديث10)

د دې حديثِ پاک لاندې **مُفسّرِ**شهير حکيمُ الاُمَّت حضرت مُفتی احمد يارخان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ فرمائي: "کامِل **مسلمان** هغه دې کوم چه لُغَةً شرعاً په هر شان **مسلمان** وي (او) مومن هغه دې چه هغه د يو **مسلمان** غِيبَت نه کوي، کنزل، پيغور، چغلي وغيره نه کوي، څوک نه وهي، نه د چا خِلاف څه ليکي." مزيد فرمائي "کامِل مُهاجِر هغه **مسلمان** دې څوک چه د وطن پريښودو سره ګناه هم پريږدي، يا ګُناه پريښودل هم لُغَةً هجرت دې کوم چه به هميشه جاري وي." (مِراٰةُالمناجيح ج 1 ص29)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

# مسلمان ته بد بد کتل، هغه یَرَوَل

**سرکارِمدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د **مسلمان** د پاره جائِز نه دي چه بل **مسلمان** ته په **سترګه** داسې اِشاره اوکړي چه په هغې [هغه ته] تکلیف اورسي. (اتحافُ السّادة للزّبيدي ج7 ص177) په یو مقام ئې ارشاد اوفرمائیل: **یو مسلمان لره جائِز نه دي چه هغه بل یو مسلمان اویَرَوي.**

(سُنن ابي داؤد ج 4 ص 391 حديث 5004)

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** معلومه شوه چه مسلمان د بل مسلمان مُحافِظ او غمخوار وي، په خپل مینځ کښ جنګ جګړه د مسلمان کار نه دې بلکه د دې نه ډیر غټ غټ نقصانونه کیږي ځنګه چه امام بُخاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپله مجموعهٔ احادیث اَلمَوسُوم **صحیح بُخاری** کښ نقل کوي: حضرت سیِّدُنا عُباده بن صامِت رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: مکّي مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بهَر تشریف راوړو چه مونږ ته شبِ قدر اوښائي، دوه مسلمانانو په خپل مینځ کښ جګړه کوله، سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: زه ځکه راغلې ووم چه تاسو ته شبِ قدر اوښایم خو فلانکي فلانکي جګړه کوله ځکه د دې تَعَیُّن اوچت کړې شو.

(صحيحُ البُخاری ج 1 ص 662 حديث 2023)

# مونږ د شریف سره شریف او ...

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** په دې حدیثِ مبارکه کښ زمونږ د پاره زبردست درسِ عبرت دې چه زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

شبِ قدر مُتَعَلِّق ښودونکې وو چه د دوه مسلمانانو په خپل مينځ کښې جګړه کول مانِع (يعني د منع وجه) جوړه شوه او د هميشه هميشه د پاره شبِ قدر مخفی (يعنې پټ) کړې شو. د دې نه اندازه اوکړئ چه په خپل مينځ کښې جګړه څومره نقصان ورکوونکې ده. خو آه! د جنګ جګړو شوقيان خلق څوک پوهه کړي؟ نن صبا خو ځيني مسلمانان په ډير فخر سره داسې وائي "ورروره په دې دُنيا کښې په شرافت ګُزاره ګرانه ده، [ځيني وائي] زه خو د شريفو سره شريف او د بدماشانو سره بدماش يم!" او صرف په وئيلو ګزاره نه کوي! اکثر خو په معمولی خبره باندې اوّل د خُلې بحث کوي، بيا لاس واچوي، او بيا پکښې چاقوان اوچلوي بلکه ډزې هم پکښې اوکړي. صد کروړ افسوس! نن صبا ځيني مسلمانان د مسلمان کيدو باوجود کله پښتون جوړشي، کله ځان ته پنجابی اووائي، کله سرائِيکي جوړشي، کله مهاجِر جوړ شي، کله د سندهي او بلوچ قوميّت نعره لګوي او د يو بل څټونه پريك کوي، دُکانونو او ګاډو ته اور لګوي. مسلمانانو! تاسو خو د يو بل محافظ وئ په تاسو څه اوشو؟ زمونږه د خوږ آقاﷺ فرمانِ عاليشان خو دا دې چه "په خپل مينځ کښې په محبّت او رحم او نرمئ کښې د مومِنانو مِثال د يو بدن په شان دې چه که يو اندام ته تکليف اورسی نو ټول بدن دا تکليف محسوسوي." (صحيح مُسلِم ص1396 حديث2586)

يو شاعِر په څومره ښکلي انداز کښې د پوهه کولو کوشش کړې دې.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرَانِي)

مبتلائے درد کوئی عضو ہو روتی ہے آنکھ
کس قدر ہمدرد سارے جسم کی ہوتی ہے آنکھ

**مفهوم:** كه په درد وي هر اندام نو ژاړي ستركه  څومره درد لري د ټول بدن دا ستركه

## څوک چه بد اوکړي په هغه هم ظلم مه کوئ

د **تِرمِذي شريف** رِوايت دې چه د **سركارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ باقرينه دې: "تاسو نَقّال [يعنې نقل كوونكى] مه جوړيږئ چه دا او وائې چه كه خلق ښيګړه كوي نو مونږ به هم ښيګړه كوو او كه خلق ظلم كوي نو مونږه به هم ظلم كوو، خو خپل نَفس ته قرار وركړئ [يعنې دا په ځان لازمه كړئ] چه كه خلق ښيګړه كوي نو تاسو هم ښيګړه كوئ او كه خلق ظُلم اوكړي نو تاسو ظُلم مه كوئ."

(سُنن التّرمِذی ج 3 ص405 حدیث 2014)

## پرَدې قلم بيرته رسوَلو د پاره سفر

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو!** تاسو اوليده! زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته د مسلمانانو سره د همدردئ مُتَعَلِّق څومره ښكلي مَدَني ګلونه عطا كړي دي. زمونږه بزرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللّٰہُ الْمُبِین به د بل د حُقوق په مُعامَله كښې د انتها درجې احساس لرلو، او د حق ادا كولو په مُعامَله كښې به ئې د حيرانَوونكي حده پورې احتياط كولو. چنانچه **حضرت** سيِّدُنا عبدُالله بن مبارک رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په مُلکِ شام كښې د يو څو ورځو د پاره اوسيدو، هلته ئې احاديثِ مباركه ليكل. يو ځل د هغوئې **قلم** مات شو، لِهٰذا عارِيَتاً (يعنې د لږ وخت دپاره) ئې د بل چا نه **قلم** حاصل كړو،

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

چه بيرته راتلو نو په هير کښې ئې هغه **قلم** د ځان سره وطن ته راوړو. چه کله ور په ياد شو نو هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ صرف د قلم بيرته رسَوَلو دپاره د خپل وطن نه د ملکِ شام سفر اوکړو. (تذکِرۃُ الواعِظين ص 243 کوئٹه)

## بغير د اِجازته د چا چپل په ښپو کول څنګه دي؟

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** تاسو اوليده! سُبحٰنَ الله! زمونږه اسلاف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به د پرَدي څيز په مُعامَله کښې د **الله** تعالٰی نه څومره يَره لرله! خو افسوس! اوس په دې باره کښې مونږه بالکل نه يريږو! ياد ساتئ! اوس خو د خلقو څيزونه قصداً ځان سره ايښودل ډير آسان معلوميږي خو د قيامت په ورځ به د حق خاوند ته د دې بدله ورکول او د هغه راضی کول ډير ګران پريوځي لِهٰذا د بل د يوې يوې دانې او د يو يو ډکي په باره کښې اِحتياط کول پکار دي، بغيراجازته د چا څه څيز مثلاً څادر، توليه، لوښې، کټ، کُرسئ وغيره بالکل استعمالول نه دي پکار خو که د دې څيزونو د مالِک له طرفه عام اِجازت وي نو بيا په استعمالوَلو کښې باک نشته. مثلًا د چا کره ميلمه جوړ شوئ نو عُموماً د کور د خاوند د طرفه د داسې څيزونو د استعمال اِجازت وي. اکثر ليدل شي چه په جُمات کښې څيني خلق د مالِک د اِجازت نه بغير د هغه چپلې په ښپو کړي او استنجا خانې ته ئې يوسي. په ظاهره خو دا عمل ډير زيات معمولې ښکاري خو لږ سوچ اوکړئ تاسو چه د چا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

چپلې په ښپو کړې او استنجاخانې ته مو تشريف يوړو او د هغې مالِک باهر ته د تللو د پاره خپلو چپلو طرف ته راغې، چه اوئې کتل نو چپلې نشته او دا سوچ ئې اوکړو چه چا پټې کړې او غريب په مات زړه ښپې ابله ښپې لاړو. تاسو اګرچه بيرته راغلئ او چپلې مو چه د کوم ځائ نه اغستې وې هم په هغه ځائ مو کيښودلې خو د هغې مالِک خو هغه ضائِع کړې. د دې ګناه به په چا وي؟ يقينًا په تاسو، او هم تاسو ظالم جوړ شوئ. آه! د قيامت په ورځ د ظالِم ارمان! حضرت سيِّدُنا شيخ عبدُالوهّاب شَعـراني رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: "اکثر به د يو ظلم په بدله کښې مظلوم د ظالِم ټولې نيکئ اغستو باندې هم خوشحاله نه وي. (تنبيهُ المُغتَرِّين ص50) ځکه خو به زمونږه بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين په ظاهره معمولي ښکاريدو والا خبرو کښې هم احتياط فرمائيلو. **حُجّةُ الاِسلام** حضرت سيِّدُنا امام محمّد بن محمّد غزالی رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي:

## په خوشبو بوئې کولو کښې اِحتياط

د **حضرت اميرُالمُؤمنـين** سيِّدُنا عمر بن عبدُالعزيز رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ په مخکښې د مسلمانانو د پاره د مُشک وزن [يعنې تول] کيدو، نو هغوئې فوراً خپله پوزه پټه کړه چه خوشبو ورته را اونه رسی چه خلقو دا خبره محسوس کړه نو هغوئې رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ اوفرمائيل: د **خوشبو** خو هم دا **بوئ کول** ګټه ده (چونکه زما مخې ته دا وخت په ډير مِقدار کښې مُشک پراته دې لهٰذا د دې نه خوشبو هم زياته راځي او زه د دومره ډيره خوشبو په بوئې کولو کښې د نورو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

مسلمانانو په مقابَله کښې زياته ګټه حاصلول نه غواړم) (اِحیاء العُلوم ج2 ص121، قُوتُ القُلوب ج2 ص533) **د اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت سره دې زمونږه مغفِرت وي.** اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## ډيوه ئې مړه کړه!

**کيميائے سعادت** کښې دي: يو بُزرګ د شپې په وخت کښې د يو مريض خوا ته تشريف فرما وو، په قضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ سره هغه بيمار وفات شو، قربان شم د هغه بزرګ په مَدَني سوچ باندې چه هغوئي فوراً ډيوه مړه کړه او اوئې فرمائيل:"اوس د دې ډيوې په تيلو کښې د وارثانو حق هم شامِل شو." (کیمیائے سعادت ج1 ص347) **د اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت سره دِ زمونږه مغفِرت وي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## باغ يا د جَهَنَّم کنده

**اللّٰه اللّٰه!** زمونږ بُزرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللّٰہُ الْمُبِین به خومره عظيم مَدَني سوچ لرلو! مونږخو د دې سوچ هم نه شو کولې، اولياءِ کِرام به هر وخت د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يرې نه په لړزان اوسيدل، هر دم به هغوئي مرګ ياد ساتلو، د قبر او د حشر د مُعامَلاتو نه به کله هم نه غافِله کيدل. آه! د قبر مُعامَله اِنتهائي تشويش ناکه ده! آه زمونږ سره به څه کيږي! مونږه خو خپل قبر بِالکل هير کړې دې، په **اِحياءُالعُلوم** کښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثوری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "څوک چه اکثر قبر يادوي د هغه د مرګ نه پس به د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

هغه قبر د جَنَّت د باغونو نه يو باغ وي او څوک چه قبر هير کړي د هغه قبر به د جَهَنَّم د کندو نه يوه کنده وي." (اِحياءُ العُلوم ج 4 ص 238)

گورِ نیکاں باغ ہو گی خُلد کا
مُجرِموں کی قبر دوزخ کا گڑھا

د جَنَّت باغ وي قبر د نيکانو د دوزخ کنده وي قبر د مُجرِمانو

## نِيمه کهجُوره

**يادساتئ!** د خپلو وړو وړو مَدَني ماشومانو د حُقوقو خيال هم پکار وي. په دي مُعامَله کښ بې اِحتياطي د هلاکت باعِث او اِحتياط د جنَّت د داخِليدو سبب وي. چنانچه حضرت سيِّدُنا محمّد بِن اسماعيل بُخارى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خپله مجموعهٔ احاديث اَلمَوسُوم **صحيح بُخارى** کښ نقل کوي: **اُمُّ الْمُؤمِنين** حضرت سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائيلي دي: يوه زنانه چه د هغې سره دوه ماشوماني وې، هغه راغله او زما نه ئې سُوال اوکړو (يعنې څه ئې اوغوښتل)، ماسره هغه وخت صرف يوه کهجُوره وه هغه ما هغې ته ورکړه هغې کهجوره دوه ټُکړې کړه او دواړو ته ئې يوه يوه ټکړه ورکړه. چه کله حضرت سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښ دا واقِعه عرض کړه نو اوئې فرمائيل: "چا ته چه لونړه عطا کړې شوې او هغه د هغوئى سره ښه سُلوک اوکړو نو دا به د هغه د پاره د جَهَنَّم نه پناه جوړې شي."
(صحيحُ البُخارى ج 4 ص 99 حديث 5995)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل **مجلِس** نه د **الله** د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاځیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

# د شاهی څپېړې انجام

**اَمِیرُالمُؤمِنِین** حضرت سیِّدُنا عُمرفاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به د حُقُوقُ العِباد په مُعامَله کښې د هیڅ چا سره رِعایت نه کولو. چنانچه شاهِ غَسَّان نوې نوې مسلمان شوې وو او په دې حضرت سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډېر خوشحاله وو ځکه چه د دې په وجه اوس د هغه د رِعایا [یعنې د ملک د نورو ټولو خلقو] د ایمان راوړو اُمِّید پیدا شوې وو. د طواف په دوران کښې د شاهِ غسّان جامه [یعنې کپړه] د یو غریب اَعرابی د ښپې نه لاندې راغله، په غُصّه کښې ئې هغه اعرابی له داسې تیزه **څپېړه** ورکړه چه په هغې د هغه اَعرابی غاښ شهید شو. هغه د سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بارګاه کښې فریاد اوکړو. شاهِ غَسّان د **څپېړې** ورکولو اقرار اوکړو نو فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مُدّعي یعنې هغه مظلوم اَعرابی ته اوفرمائیل چه تاسو د شاهِ غَسَّان نه قِصاص یعنې بدله اغستې شئ. دا ئې چه واوریدل نو شاهِ غسّان بده اوګڼړله اوئې وئیل: چه یو معمولی کس زما په شان بادشاه سره څنګه برابر شو چه ده ته زما نه د بدله اغِستو حق حاصل شو! هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائیل: اِسلام تاسو دواړه برابر کړي ئې. شاهِ غَسّان د قِصاص د پاره د یوې ورځې مُهلَت واغستو، د شپې اوتښتیدو او مُرتد شو. (خُطباتِ مُحرّم ص138 شبّیر برادرز مرکزُ الاَولیا لاهور)

# د فاروقِ اَعظم سادَګی

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو!** حضرت سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د شاهِ غَسّان په شان بادشاه ته د زړّې همره رعایت هم ورنه کړو او د هغه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

بدنصيبه د اسلام نه د مخ ګرځولو او بيا د كُفر ګندې ته د دنګلو په وجه اِسلام ته څه نقصان هم اونه رسيدو. بلكه كه حضرت سيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ رعايت كړې وې نو شايد چه اسلام ته ضَرر (يعنې نقصان) رسيدلې وې او د خلقو به دا ذهن جوړ شوې وې چه اسلام كمزوري ته د طاقتور نه **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ حق نه شي وركولې. دا د عادِلانه نِظام بركت وو چه يوه ورځ حضرت سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ بغير د يو **مُحافِظ** نه بې يرې او بې خطره د ګرمۍ په موسم كښې د يوې وَنې لاندې په ګټه باندې خپل مُبارک سر كيښودې اوده وو چه په دغه وخت كښې د روم قاصِد د هغوئي په تلاش كښې دغه طرف ته را اووتو او دوئي ئې په داسې انداز كښې اوده اوليدلو نو حيران شو چه هم دا هغه كس دې د چا نه چه ټوله دُنيا په لړزان ده ! بيا ئې اووئيل: اے **عُمر**! تاسو عَدل كوئ، د حُقُوقُ العِباد خيال ساتئ نو تاسو ته په كانړو باندې هم خوب درځى او زمونږ بادشاهان ظُلم كوي د بندګانو حقوق ضائع كوي ځكه هغوئ ته د بخملو په بسترو هم خوب نه ورځى. **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په بركت سره دِ زمونږه مغفِرت وي.**

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د خرابې خاتِمې اسباب

د **ظُلم** سپيره والې هم اوګورئ د **شاهِ غَسّان** ايمان هم برباد شو! حضرت سيِّدُنا ابوبكر وَرّاق رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: "په بندګانو باندې ظلم كول

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

**اکثر د سلبِ ايمان** [يعني د ايمان د ضائع کيدو] **سبب جوړيږي.**" د حضرت سَيِّدُنا ابوالقاسِم حکيم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه چا تپوس اوکړو: کومه داسې ګناه هم شته چه هغه بنده د ايمان نه محرومه کوي؟ اوئې فرمائيل: **د ايمان د بربادئ** درې اسباب دي: **(1)** د اِيمان په نِعمَت باندې شکر نه ادا کول **(2)** د اِيمان د ضائع کيدو يره نه ساتل **(3)** په مسلمان ظلم کول.

(تَنبِيهُ الْغافِلِين ص204)

## ځان ته د چا "غُلام" وئيل خنګه دي؟

زمونږه بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين د حُقُوقُ العِباد په مُعامَله کښې د اِحتياط داسې مثالونه قائِم کړي دي چه عقل ورته حيران پاتې شي. چنانچه د **اِمام اعظم، فقيهِ افخم** حضرت سيِّدُنا **اِمام ابوحنيفه** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ شاګِرد قاضِي القُضاة يعني (Chief Justice) حضرت سَيِّدُنا **اِمام ابو يوسف** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د خليفه هارونُ الرّشيد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مُعتَمَد (يعنې قابِلِ اِعتِماد) وزيرفضل بن ربيع ګواهي قبلَوَلو نه انکار اوکړو. خليفه هارونُ الرَّشيد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه کله د ګواهي قبلَوَلو نه د انکار د سبب پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل: يو ځل ما پخپله په خپلو غوږونو اوريدلي دي چه هغه تاسو ته وئيل چه: "**زه ستا غلام يم**" که هغه په دې قول کښې رِښتوني وي نو هغه ستا په حق کښې د ګواهئ ورکولو د پاره نا اهله شو ځکه چه د مالِک په حق کښې د غلام ګواهي نامقبوله ده او که د خوشامندې په

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

طور هغه دروغ وئيلي وو نو بيا هم د هغه ګواهي نه شي قبليدې ځکه چه کوم کس ستا په دربار کښ په بې باکئ سره دروغ وئيلې شي هغه به زما په عدالت کښ د دروغ وئيلو نه څه ډډه اوکړي!

## څنګه حال دې؟

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** تاسو اوليده؟ حضرت **سَيِّدُنا امام ابو يوسف** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ څومره ذهين وو او که عدل وي نو داسې دِ وي چه د يو بنده د حق په مُعامَله کښ په نهايت بې پرواهئ سره د زمانې د خليفه په حق کښ د هغه د خاص وزير ګواهي هم رد کوي. دلته واقعي يوه نکته قابِلِ ذِکر ده چه اکثر اوقات د خوشامندې په طور يا هسې بې سوچه ځان ته د يو بل خادم يا غلام يا سګ وغيره وئيلې شي خو زړه د دې بالکل خلاف وي، کاش! زړه او ژبه يو شي. زمونږ اسلافو به د زړه او د ژبې د يَووالې ډير زيات خيال ساتلو چنانچه **اِمَامُ الْمُعَبِّرِیْن** حضرت سَيِّدُنا امام **محمّد** اِبنِ سيرين عليهِ رَحمَۃُ اللّٰہِ الْمُبِیۡن د يو کس نه تپوس اوکړو چه: **څه حال دې؟** هغه اووئيل: ”د هغه به څه حال وي چه په چا پينځه سوه دِرهم قرض وي، بال بچه دار هم وي او هيڅ هم ورسره نه وي؟“ هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ چه دا واوريدل نو کور ته ئې تشريف يوړو او زر دراهِم ئې راوړل او هغه ته ئې پيش کړل او ورته ئې اوفرمائيل: په پينځه سوه باندې خپل قرض ادا کړئ او دا نورې پينځه سوه د خپل کور د خرچ د پاره قبولې کړئ. د هغې نه پس هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خپل

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

زړه کښې عهد اوکړو چه آئِنده به د چا د حال پوښتنه نه کوم. **حُجّةُ الاِسلام** حضرت سَیِّدُنا امام محمّد غزالی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: اِمام اِبن سیرین رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه دا عهد صرف په دې وجه اوکړو چه که زه د چا د حال تپوس اوکړم او هغه خپله پریشاني بیان کړي بیا که زه د هغه مدد اونه کړم نو زه به د تپوس په معامله کښې منافق ګڼړلې شم!

(کیمیائے سعادت ج1 ص408)

## مُنافِق به ګڼړلې شم، د دې وضاحت

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** تاسو اولیده! زمونږه اسلاف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به څومره کرّه او رښتیني وو، د هغوئي په ذهن کښې دا وه چه تر څو پورې د مخامخ سړي سره په حقیقي معنو کښې د همدردئ جذبه نه وي د هغه د حال پوښتنه نه دي کول پکار. او که د حال د تپوس په صورت کښې هغه خپلې پریشانئ بیان کړې نو حَتَّی المَقدور [یعنې چه څومره کیدې شي نو] د هغه اِمداد دِ اوکړې شي. یاد ساتئ! **امام اِبن سیرین** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مدد نه کولو په صورت کښې چه دا اوفرمائیل چه "مُنافِق به ګڼړلې شم" د دې نه په دې موقع عملي منافِق مراد دې او نِفاقِ عَمَلِي کفر نه دې.

## د مظلوم اِمداد کول ضروري دي

څنګه چه ظُلم کول د بندګانو حق تلفی ده دغسې د قدرت لرلو باوجود د مظلوم مدد نه کول هم جُرم دې. چنانچه حضرت سیِّدُنا عبدُالله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دروِدِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا وائي: د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرت نِشان دې: الله عَزَّوَجَلَّ فرمائي: "زما د عِزّت و جلال قسم دِ وي زه به زر یا پس د **ظالِم** نه ضرور بدله اخلم. او د هغه نه به هم بدله اخلم څوک چه د قُدرت لرلو باوجود د **مظلوم** امداد نه کوي." (اَلتَّرْغِیب وَالتَّرْهِیب ج3ص145 حدیث3421) معلومه شوه څوک چه د مظلوم د مدد کولو قُدرت لري بیا ئې هم نه کوي هغه ګنهګار دې. البَتَّه څوک چه په مدد کولو باندې قادِر نه وي هغه ګنهګار نه دې څنګه چه حضرت شارِحِ بُخاري مفتي محمّد شریفُ الحق کوټلوي رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "یاد ساتئ! د مسلمان مدد، د مدد کوونکي د حال په اعتِبار سره کله فرض وي کله واجب کله مُستحب." (نزهة القاری ج3ص665)

## د قبر نه شُعلې پورته کیدې

خلیفهٔ اعلٰحضرت فقیهِ اعظم حضرت علّامه ابو یوسُف محمّد شریف کوټلوي رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه په خپل کتاب **اَخلاقُ الصّالِحِین** کښې نقل کوي: ابو مَیسره رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: **د یو قبر نه شُعلې اوچتیدې** او په مړي عذاب جاری وو، مړي تپوس اوکړو: ما ولې وهئ؟ فرښتو هغه ته اووئیل چه یو **مظلوم** تا ته فریاد اوکړو خو تا د هغه فریاد رسی [یعنې مدد] اونه کړو او یو ورځ تا بې اودسه مونځ کړې وو. (اَخلاقُ الصّالحین ص57 ، تَنبِیْهُ الْمُغتَرِّین ص51)

## د مسلمان غم

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** دا خو د هغه کس حال دې څوک چه د مسلمان د مدد کولو د قدرت لرلو باوجود د هغه مدد نه کوي نو د ظالِم به

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

بچېله څه حال وي! معلومه شوه چه د خپل وسه پورې د مظلوم مدد کول پكار دي او د مظلوم په مدد كولو كښې ډېر اجر و ثواب دې. زمونږه بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين ته د مسلمانانو د تكليف خومره ډېر احساس وو د دې اندازه په **كيميائے سعادت** كښې د بيان كړې شوي دې حِكايت نه اولګوئ. چنانچه **يو** ځل خلقو اوليدل چه حضرت سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه ژاړي، چه كله ترې د ژړا تپوس اوكړې شو نو اوئې فرمائيل: زه د هغه بې اسره مُسلمانانو په غم كښې ژاړم كومو چه په ما باندې ظُلمونه كړي دي ځكه چه صبا د قيامت په ورځ به چه كله د هغوئ نه تپوس كيږي چه تاسو داسې ولې كړي وو؟ نو د هغوئ به يو عُذر هم قبول نه كړې شي او هغوئ به ذليل او رُسوا شي. (كيمياۓ سعادت ج1ص393)

## د غَل غَـم

د يو بُزرګ واقعه ده چه د هغوئې رقم چا ويستلې وو او هغوئې ژړل خلقو ورسره همدرى ښكاره كړه نو اوئې فرمائيل: زه د خپل رقم په غم كښې نه بلكه د غل په **غم** كښې ژاړم چه صبا په ورځ د قِيامت به دا بې اَسره د **مجرم** په طور پيش كيږي هغه وخت كه د هغه سره څه عُذر نه وي نو آه! د هغه به خومره رُسوائي كيږي.

## د غلا عذاب

د **غَل** خبره كيدله نو راشئ چه د غلا عذاب هم درته عرض كړم. فقيه ابو اللّيث سمرقندي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **قُرّةُ العُيُون** كښې نقل كوي: چا چه د چا

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

لږ شان مال هم غلا کړو هغه به د قيامت په ورځ هغه مال د اور د طوق (اميل) په شکل په غاړه کښې زوړند کړې راځی او چا چه لږ شان مالِ حرام اوخوړو د هغه په خيټه کښې به اور بل کړې شي او هغه به دومره خوفناکې چغې وهي چه څومره خلق د خپلو قبرونو نه راپاڅي هغه ټول به اولړزيږي تر دې چه خُدائے اَحکَمُ الحاکِمين جَلَّ جلالُہٗ د خلقو په مخکښې هر څه فيصله اوفرمائي. (قُرَّةُ العُيُون ص392)

## د ګناهونو د مريضانو د عِلاج کولو والؤ د پاره مَدَني ګلونه

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** خبره روانه وه د مسلمانانو د غم ژړلو او زمونږه بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به د مسلمانانو د ګناهونو په وجه کيدونکې د سختو عذابونو مُتَعَلِّق غور کولو او په هغوئې به ئې رحم کولو، د هغوئې د پاره به غمګين اوسيدل او د هغوئې د اصلاح د پاره به فکرمند وو. مونږ لره هم د مسلمانانو سره همدردي او غم رازی کول پکار دي، د هغوئې د اصلاح د پاره هر وخت کوشش کول پکار دي او په دې کښې حوصله غټه ساتل او د حکمت عملۍ نه کار اغستل پکار دي، په دې باره کښې مونږ لره د ډاکټر په طريقهٔ کار باندې د ځان پوهه کولو کوشش کول پکار دي څنګه چه د ترخې دوائي او اِنجکشن وغيره په وجه مريض د ډاکټر نه ډېره کوي بيا هم ډاکټر د هغه نه نفرت نه کوي بلکه د محبّت سلوک ورسره کوي هم دغسې که د ګناهونو مريضان په مونږ پورې ټوقې کوي، يا را پسې د شا نه سپک آوازونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

کوي مونږ لره هم هِمَّت پریښودل نه دي پکار، که مونږه په پخه اراده سره کوشش جاری ساتو او د عمل د میدان نه تښتیدونکو ته د دَعوتِ اسلامی په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو عادت ورکولو کښې کامیاب شو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ګناهونو مریضان به ضرور په قلاره قلاره شِفا اومومي.

## د مختلِفو حُقُوقو زده کولو طریقه

**یاد ساتئ!** د بندګانو د حقُونو په مُعَامَله کښې د مور و پلار مُعَامَله د ټولو نه وړومبئ ده. د دې د تفصیلي معلوماتو د پاره د مکتبةُ المَدینه نه جاري شوې آډیو بیان کیسټ "**ماں باپ کو ستانا حرام ہے**" او د نګرانِ شُورٰی د بیان VCD "**ماں باپ کے حُقُوق**" واورئ. هم دغه رنګ د اولاد حقُونه، د ښځې او د خاوند حقُونه، د رشته دارانو حقُونه، د ګاونډیانو حقُونه وغیره چه کوم دي هغه د عامو بندګانو د حقُونو نه زیات اَهَمِّیَّت لري. دا ټول حقُونه په دې مُختصر بیان کښې نه شي زده کیدې د دې د پاره د مکتبةُالمَدینه د دې درې رسالو (1) والِدین، زوجین اور اساتِذہ کے حُقُوق (2) حُقُوق العِباد کیسے مُعاف ہوں او (3) اولاد کے حُقُوق اولولئ. او په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو نه ډک سفر جاري ساتئ اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حُقُوقُ العِباد په باره کښې د معلوماتو سره سره به د احتیاط جذبه هم اومومئ او چه احتیاط کوئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د جَنَّت لار به هم آسانه شي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# د ظالِم د مُختلِفو طريقو معلومات

مسلمانان تنګونکو، د خلقو زړونه ازارووونکو، د خلقو بد نومونه ايښودونکو، په خلقو پسې د شا نه د مسخرو غږ كوونكو، د خلقو پيښې كوونكو او په خلقو پورې تهوقې كوونكو د پاره د سوچ مقام دې، واورئ! واورئ! ربِّ كائِنات په سيپاره 26، سُوْرَةُ الحُجُرات 11 نمبر آيت كښې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ وَ لَا تَلْمِزُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ لَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَ مَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۱﴾

زما آقا اعلٰحضرت امامِ اَهلِسُنَّت حضرت عَلّامه مولانا اَلشَّاه اِمام اَحمد رَضا خان رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَيۡه په خپله مشهوره ترجَمۀِ قُرآن، كنزُالاِيمان كښې د دې ترجَمه څه په دې ډَوَل كوي: اے ايمان والؤ! نه دِ نارينه په نارينؤ پورې خاندي، عجب نه دي چه هغه د دې خندا كوونكو نه غوره وي او نه دِ زنانه په زنانؤ پورې، لرې نه ده چه هغه د دې خندا كوونكو نه غوره وي او په خپل مينځ كښې يو بل ته پيغور مه كوئ او د يو بل بد نومونه مه كږدئ. څومره بد نوم دې پس د مسلمانئ نه فاسِق ياديدل، او څوک چه توبه اونه كړي هم هغه ظالمان دي.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترخو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

# په چا پورې خندا كول ګناه ده

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** د چا په غريبئ يا حَسَب نَسَب يا په بدني عيب پورې خندا كول ګُناه ده هم دغسې يو مسلمان په بدو القابو سره يادول هم ګناه ده، چا ته سپي، خر، يا خنزير وغيره وئيلو اِجازت نشته، هم دغسې كه په چا كښې يو عيب موجود وي نو بيا هم د هغه عيب سره هغه ته غږ نه شئ كولې مثلًا اے ړونده، اے يو سترګِيه، اے اُوګړده، اے لنډيه! وغيره، خو ضرورتاً بل ته د پيژندګلو وركولو د پاره نابينا وغيره وئيلې شئ. په خلقو پورى خندا كول، په بدو القابو سره يادول او په هغوئي پورې ټوقې كوونكو باندې قُرآنِ پاک د "**فاسِق**" فتوٰى ارشاد كړې ده. او څوک چه توبه اونه كړي هغه ته ئې ظالم وئيلې دي. په خلقو پورې ټوقې كوونكو ! په خلاصو غوږونو واورئ!

# د ټوقو كولو عذاب

چه كله مو په يو مسلمان پورې ټوقې كولو ته زړه اوشي نو د خدائے د پاره په دې رِوايت باندې غور كوئ. چه په هغې كښې د نبيانو سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قِيامت په ورځ به په خلقو پورې د ټوقو كوونكي مخې ته د جنّت يوه دروازه بيرته كړې شي او ورته به وئيلې شي چه راشه! راشه! نو هغه به په ډيره تادئ او په غم كښې ډوب د هغه دروازې مخې ته راشي خو چه څنګه د دروازې خوا ته اورسيږي هغه دروازه به بنده شي. بيا به د جنّت يوه بله دروازه بيرته كړې شي او هغه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ته به آواز اوکړې شي چه راشه! چنانچه دې به په تادئ سره په غم او پريشانئ کښې ډوب د هغه دروازې خوا ته ورشي نو هغه دروازه به هم بنده شي. هم دغسې به د هغه سره معامله جاري وي تر دې پورې چه [آخِر به داسې نا اُميده شي چه بيا] کله دروازه بيرته کړې شي او هغه ته آواز اوکړې شي نو هغه به نه وَرځِي.

(کتابُ الصَّمت مع موسُوعَه امام ابنِ اَبِي الدُّنيا، ج 7 ص 183، 184 رقم 287)

## مُعافي اوغواړئ

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** ټول اويريږئ او د الله عَزَّوَجَلَّ بارګاه ته رُجوع اوکړئ، په رِښتيا سره توبه اوکړئ او واورئ! د بندګانو د حق تلفئ په مُعامَلَه کښې په بارګاهِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ کښې صرف توبه کول کافي نه دي، د بندګانو کوم کوم حُقوق مو چه ضائع کړي وي هغه ادا کول هم ضروري دي. مثلًا که مالي حق وي نو د هغه مال به هغه ته ورکول غواړې، که د چا زړه هم ازارولې وي نو په هغه به [په زارئ سره] ځان معاف کول ضروري وي. د نن ورځې پورې مو که په چا پورې ټوقې کړې وي، که په بدو القابو [يعني بدو نومونو] مو ياد کړي وي، پيغور يا سپکه هم وريورې وئيلي وي، زړه ازاروونکې پيښې هم د چا کړې وي، زړه ازاروونکې انداز کښې هم پرې سترګې راويستلې وي، بد بد هم ورته کتلي وي، يَرَولې هم وي، کنزلې مو ورته کړي وي، غِيبَت مو کړې وي او هغه خبر شوې وي. رټلې مو وي، وهلې مو وي، ذليل کړې مو وي، الغرض که د هر قسم بِلا اِجازتِ شرعي تاسو چا ته تکليف

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنۡزُ الۡعُمَّال)

رسولې وي د هغه ټولو نه جُدا جُدا [په داسې انداز کښې] معافي اوغواړئ [چه هغه هم معاف کړي]، که د ځينې کس نه په دې وجه معافي نه غواړئ چه د معافي غوښتو په وجه به هغه ته زما "**پوزيشن خراب**" شي نو د خدائ د پاره غور اوکړئ چه! د قِيامت په ورځ هم دا کس ستاسو نيکئ واخلي او خپل ګناهونه ستاسو په سر دړواچوي نو هغه وخت به څه وي! قسم په خدائ! په صحيح معنو کښې خو به ستاسو پوزيشن هغه وخت ټوټې ټوټې شي او آه! څوک دوست، ورور يا عزيز به همدردئ کولو والا هم نه وي. زر کوئ! زر کوئ! د خپل مور او پلار په ښپو کښې اوغورزيږئ، خپلو عزيزانو ته لاسونه جوړه کړئ، د خپلو ماتحتو په ښپو پريوځئ، خپلو اسلامى ورونړو او دوستانو نه په زارو زارو، په معافئ غوښتلو نن په دُنيا کښې ځان ذليله کړئ او د آخِرت د عِزَّت حاصلولو کوشش اوکړئ. د الله عَزَّوَجَلَّ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنۡ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ يعنې څوک چه د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره عاجِزى کوي الله عَزَّوَجَلَّ به هغه ته بُلندي [يعنې عزّت] عطا کوي. (شُعَبُ الايمان ج 6 ص 297 حديث 8229) ټول د يو بل نه مُعافي اوغواړئ او ټول يو بل مُعاف هم کړئ.

## ما مُعاف کړي ئې

د چا سره چه د زياتو خلقو ناسته ولاړه وي د هغه نه د بندګانو د حق تلفئ کيدو اِمکان هم زيات وي. زما سګِ مدينه عُفِيَ عَنۡهُ سره د تَعَلُّق لرونکو خلقو تعداد هم ډير زيات دي، آه! معلومه نه ده چه څومره خلق به زما نه خفه کيږي! زه تاسو ته په ډيره عاجزئ عرض

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

کوم: زما د ذات نه که د چا ځان، مال، يا عِزَّت ته **نقصان** رسيدلې وي هغه که غواړي نو زما نه دِ بدله واخلي يا دِ ما معاف کړي، که د چا په ما قرض وي نو بيشکه وصول دِ ئې کړي که وصولَوَل نه غواړي نو معافي دِ راته اوکړي. څوک چه زما قرضدار دي ما خپل **ذاتي رقمونه** هغوئي ته **معاف** کړل. اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! زما په سبب يو مسلمان ته هم عذاب مه ورکوه. ما هر مسلمان ته خپل تير شوي او راروان حقونه معاف کړل، آيا که چا زما زړه ازارولې وي يا به مې آئِنده ازاروي، که زه چا وهلې يم يا به مې آئِنده وهي، زما د مرګ کوشش ئې کړې وي يا به ئې آئِنده کوي يا که ما شهيد کړي زما د حقوقو په تَعَلُّق سره زما له طرفه د هر مسلمان د پاره د **عامي مُعافئ** اِعلان دې. **اے زما ګرانه او خوږه الله**! ته ما عاجِز او مسکين بنده ته تير شوي او آئِنده ګُناهونه مُعاف کړې او زما بې حِسابه بخښنه اوکړې.

صدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے

په خاطر د خوږ نبي زما نه مه اخله حساب
بې پوښتنې مې بخشش کړې، رُسوا نه کړې نور رُسوا

ټول اسلامی وروڼړه کوم چه دا وخت د درې ورځو په بينُ الاقوامی اجتِماع کښې جمع دي يا د مَدَني چينل او اِنټرنيټ په ذريعه په دُنيا کښې زما بيان په هر ځائ کښې اوري يا ټول هغه اسلامی وروڼړه او اسلامی خويندې څوک چه د آډيوکيسټ يا ويډيو [وي سی ډی] وغيره په ذريعه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

زما بيان اورې يا تحريري بيان لولي هغه تهول تَوَجُّه اوفرمائې چه د بنده په دنيا كښې د **غټ نه غټ حق** چه كوم تَصَوُّر كيدې شي اوګنړئ چه ما ستاسو هغه حق ضائع كړې دې او د دې نه علاوه هم مې چه څومره حُقُوق تلف [يعني ضائع] كړي وي د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د پاره ما ته هغه تهول حقونه معاف كړئ بلكه د احسان د پاسه به ستاسو په ما احسان وي چه د آئِنده د پاره هم ما ته پيشګى [يعني په اِډوانس كښې] معافي اوكړئ. **برائےكرم**! د زړه د اِخلاص سره يو ځل په ژبه سره اووائې چه: **ما مُعاف كړې ئې**. جَزَاكُمُ اللّٰهُ خَيْرًا وَّاَحْسَنَ الْجَزَاءِ

## رقم به بيرته وركول وي

په چا چه د چا **قرض** وي هغه دِ وركړي او كه په وركولو كښې ئې تاخير كړې وي نو د هغې مُعافي دِ هم اوغواړي، د چا نه ئې چه رِشوت اغستې وي، د چا جيب ئې وهلې وي، د چا نه ئې كه **غلا** كړې وي، كه د چا **مال ئې لُوټ كړې وي** نو هغه تهولو ته د هغوئې مالونه وركول ضروري دي. يا دِ د هغوئې نه مُهلَت واخلي يا دِ ئې پرې **مُعاف** كړي او چه كوم تكليف ور رسيدلې وي د هغې مُعافي دِ هم ترې اوغواړي كه هغه كس **وفات** شوې وي نو د هغه وارثانو ته دِ ئې وركړي او كه څوك وارث ئې نه وي نو هُم هغه همره رقم دِ صدقه كړي. كه د خلقو مال ئې نِيولې وي او دا ورته ياد نه وي چه د چا چا مال ئې ناحقه اغستې دې بيا دِ هم هغه همره رقم صدقه كړي يعنې مساكين ته دِ ئې

ورکړي. د **صدقه** کولو نه پس هم که د حق خاوند مطالبه اوکړه نو ورکول به ضروری وي.

## چه څوک ورته یاد نه وي په هغوئ ئې څنګه معاف کړي؟

**کوم** اِسلامی ورونړه چه د حُقُوقُ العِباد په معامله کښې یره لري او اوس په سوچ کښې پراته دي چه مونږ خو خدائ خبر دې د څومره خلقو حَق تلفیانې کړي دي او د څومره خلقو زړونه مو ازارولي دي، مونږ اوس څوک څوک او کوم کوم ځائ کښې اوګورو! د داسې خلقو په خدمت کښې عرض دې چه د کوم کوم کس زړه ازارَوَل وغیره مو کړي وي په هغوئې کښې چه د څومره کسانو سره رابطه کیدې شي د هغوئې سره په مِلاویدو یا په فون یا د خط په ذریعه رابطه اوکړئ او د **معافئ تلافئ** ترکیب جوړکړئ او هغوئې راضي کړئ او چه څوک څوک غائِب دي یا وفات شوي دي یا د کومو په باره کښې چه درته یاد نه وي چه هغه څوک وو نو د هر مانځه نه پس د هغوئې د پاره د مغفِرت دُعا کوئ. مثلاً د هر مانځه نه پس داسې معمول جوړکړئ: "**یاالله** عَزَّوَجَلَّ **زما او ما چه د کومو کومو مسلمانانو حق تلفي کړي ده د هغه ټولو مغفِرت اوفرمائې.**" د **الله** عَزَّوَجَلَّ رحمت ډیر لوئې دې، مایوسه کیږئ مه، "نیت صفا منزِل آسان." اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ستاسو پښیمانې به رنګ راوړي او د خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر به د حُقُوقُ العِباد د مُعافئ اسباب هم د **الله** عَزَّوَجَلَّ په کَرَم سره جوړشي. چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

# الله عَزَّوَجَلَّ به ئې صُلح اوکړي

**حضرت** سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف فرما وو، هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُسکې شو. حضرت سَیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تاسو زما مور او پلار قربان! تاسو په څه وجه مُسکې شوئ: ارشاد ئې اوفرمائيلو: زما دوه اُمّتِيان به د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې په ګونډو [يعني زنګونانو] اوغورزيږي، يو به عرض اوکړي: يا الله عَزَّوَجَلَّ د ده نه ماته انصاف راکړه ځکه چه ده په ما باندې ظلم کړې وو. الله عَزَّوَجَلَّ به مُدَّعی (يعني دعوٰی کوونکي) ته اوفرمائي: اوس دا غريب (يعني په چا چه دعوٰی شوې وي) څه اوکړي د هغه سره خو هيڅ نيکی نه ده پاتې شوې. **مظلوم** (مُدَّعی) به عرض کوي: "زما ګناهونه د ده په ذِمّه ورواچوه." دومره ئې چه اوفرمائيل نو سرورِ کائِنات شاهِ موجودات صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ژړا شو، اوئې فرمائيل: هغه ورځ به ډيره عظيمه ورځ وي ځکه چه هغه وخت (يعني د قيامت په ورځ) به هر يو د دې خبرې ضرورت مند وي چه د هغه بوج سپک شي. **الله** عَزَّوَجَلَّ به مظلوم (يعني مُدّعی) ته اوفرمائي: اوګوره ستا مخې ته څه دي؟ هغه به عرض کوي: اے پروردِګار عَزَّوَجَلَّ! زه خپلې مخې ته د سرو زرو غټ ښار او غټ غټ محلونه وينم کوم چه په مرو ښکلې کړې شوي دي دا ښار او ښکلي محلّات د کوم پيغمبر يا صِدّيق يا شهيد د پاره دي؟ الله عَزَّوَجَلَّ به فرمائي: دا د هغه د پاره دي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

ځوک چه د دې قِيمت اداکړي. بنده به عرض اوکړي: د دې قِيمت ځوک ادا کولې شي؟ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به اوفرمائي: ته ئې ادا کولې شې. هغه به عرض اوکړي: څنګه؟ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به اوفرمائي: داسې چه ته د خپل ورور حقونه **مُعاف** کړې. بنده به عرض اوکړي يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ټول حقونه مُعاف کړل. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به اوفرمائي: خپل ورور د لاسه اونيسه او دواړه يو ځائ جَنَّت ته لاړ شئ. بيا سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه اويَريږئ او په مخلوق کښې **صُلح** اوکړئ ځکه چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به هم د قيامت په ورځ به بندګانو کښې صُلح کوي.

(اَلْمُستَدرَک لِلْحاکِم ج 5 ص 795 حديث 8758)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د بيان په آخِره کښې د سُنَّــتو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلوم. د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: "چا چه زما د سُنَّت سره مُحَبَّت اوکړو هغه زما سره مُحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مُحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."

(مِشْكَاةُ الْمَصَابِيح، ج 1 ص55، حديث 175)

سُنتیں عام کریں دِین کا ہم کام کریں
نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

# د خبرو اَترو 12 مدني ګلونه

(1) په مُسکا او په فراخه تندي خبرې کوئ (2) د مُسلمانانو د زړه ساتلو په نِيَّت د وړو سره د مهربانئ او د مشرانو سره د ادب انداز اختيارکړئ اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د ثواب ګټلو سره سره به د دواړو په زړه کښې ستاسو عِزَّت وي. (3) په تيز تيز آواز کښې خبرې کول څنګه چه نن صبا په آذادئ سره دوستان په خپل مينځ کښې کوي، سُنّت نه دي. (4) که د يوې ورځې ماشوم وي د ښه ښه نيّتونو سره د هغه سره هم په جناب، تاسو [يعني د ادب په الفاظو] کښې د خبرو کولو عادت جوړکړئ ستاسو اخلاق به هم اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ ښه کيږي او ماشوم به هم آداب زده کوي (5) د خبرو اترو په وخت کښې د پردې ځايونو ته لاس لګول، د ګوتو په ذريعه د بدن نه خيرې ولا ړول، د نورو په مخکښې ساعت په ساعت په پوزه لاس وهل، پوزه يا غوږ.کښې ګوته وهل، يا ساعت په ساعت لا ړې تُوکل ښه خبره نه ده د دې نه نورو ته کرکه کيږي. (6) ترڅو پورې چه بل خبره کوي نو په اِطمينان سره ئې اورئ، د بل خبره کټ کول او خپله خبره شُروع کول سُنّت نه دي. (7) د خبرو اترو په دوران کښې بلکه په هيڅ حالت کښې هم قَهقَهَه مه لګوئ [يعني په دومره آواز خندا مه کوئ چه بل ئې واورې] ځکه چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله هم قَهقَهَه نه ده لګولې. (8) زياتې خبرې کولو او بيا بيا د قَهقَهَه لګولو سره رُعب ختميږي. (9) د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

فرمانِ عاليشان دې: ”کله چه تاسو [داسې] څوک بنده اووينئ چه هغه ته د دُنيا نه د بې رغبتئ او د کم وئيلو نعمت ورکړې شوې دې نو د هغه قُربَت او صحبت اختيار کړئ ځکه چه هغه ته حِکمت ورکولې شي.“ (سنن ابن ماجه،ج4،ص422 حديث 4101) (10) فرمانِ مصطفٰى صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: ”**څوک چه خاموش پاتې شو هغه خلاصې اوموندو.**“ (سُنَنُ التِّرمذی ج4ص225 حديث 2509) په مِراٰۃُالمَناجيح کښې دي: **حُجّةُ الإسلام** حضرت سيِّدُنا امام محمّد غزالى رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: چه د خبرو اَترو څلور قِسمونه دي: (۱) خالص مُضِر (يعني مُکمّل نُقصان ورکوونکې) (۲) خالِص مُفيد (يعني مُکمّل فائِده مند) (۳) هُم مُضِر (يعني نقصان ورکونکې) هُم مُفيد [يعني فائِده مند] (۴) نه مُضِر نه مُفيد. د خالِص مُضِر (يعني مکمل نقصان ورکوونکې) نه هميشه پرهيز ضرورى دې، خالِص مُفيد کلام [يعني مکمل فائِده مندې خبرى] ضرورکوئ، کومه خبره چه مُضِر هم وي او مُفِيده هم وي د هغې په کولو کښې اِحتياط پکار دې او غوره دا ده چه نه ئې کوي او د څلورم قِسم خبرې کول وخت ضائِع کول دي. په دې خبرو کښې فرق کول مشکل دي لهٰذا خاموشي غوره ده. (مراٰۃالمناجيح ج6ص464) (11) د چا سره که څه خبرې اترې کول وي نو د هغې څه صحيح مقصد هم پکار دې او هميشه د مخاطب د مرتبې او د هغه د نفسياتو مطابق خبرې کول پکار دي (12) بيهوده او د بې حيائي د خبرو نه هر وخت پرهيز کوئ، د کنزلو نه اجتِناب [يعني ډډه] کوئ او ياد ساتئ چه هر مسلمان

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

ته بِلا اِجازتِ شرعي کنزلې کول قطعي حرام دي. (فتاوٰی رضویه، ج21، ص127)
او د بې حيائۍ خبرې کوونکو باندې جَنَّت حرام دې. حضور تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:"په هغه کس جَنَّت حرام دې څوک چه د فُحش ګوئۍ (يعني د بې حيائۍ د خبرې) نه کار اخلي."
(کتابُ الصَّمْت، معه موسوعة الامام ابن أبي الدنيا، ج 8، ص 204 رقم 325)

د خبرو اترو [د آدابو] د تفصيلي معلومات حاصلولو د پاره او نور په سوونو سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدينه د 120 صفحو کتاب "سُنتيں اور آداب". هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامی په مدني قافلوکښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتو نه ډک سفر هم دې.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو — لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو — پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ
رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به مو ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی اللّٰہ اَسْتَغْفِرُ اللّٰہ
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زیارت د مانبام د مانځه نه پس ستاسو په ځایٔ کښ کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رَسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپل ځایٔ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







www.dawateislami.net


ISBN 978-969-631-323-6
0125196
MC 1286



فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net